# د بشرپوهنې په رڼا کښې د خوشحال علمي تهذيبي نظريه

## The Academic Civilizational theory of Khushaal Khan Khattak in the light of Anthropology

Israrullah*

Dr. Faqir Muhammad♣

**ABSTRACT:**

Khushaal Khan Khattak, who is also known as Great Khushal or Khushal Baba, was born in 1022 Hijri in Akura Khattak and died in 1100 Hijri. He was a multi-faceted personality such as scholar, philosopher, poet, writer, warrior, translator, physician and military general etc. He has written a number of books.

As anthropology is a social Science and we want to See the anthropological Approach of Khushal Khan Kattak in his writings. Thus we will able to conclude the anthropological approach of pashtuns Three and a half hundred years ago, what was there about this knowledge in Pashtuns? What kind of Human they wants to be like or considering perfect? Did the Pashtuns have any sense of anthropology or not in that time? And What was the Perfect man of Great Khushaal Khan Khattak?.

**Key Words:** Anthropology, Pashtun anthropology, Khushaal Khan Khattak as an anthropologist.

### بشرپوهنه: ANTHROPOLOGY

بشر پوهنه د دوو ټکو بشر او پوهنه نه مرکب شوے چې معنا يې ده " د انسان مطالعه" يا د انسان په اړه علم او پوهه. دې ته علمِ انسانيات، بشرشناسي او انسان پېژندنه هم وايي.

* PhD Scholar, Pakhtunkhwa Study Center, Bacha Khan university charsadda.
♣ Lecturer, Pakhtunkhwa Study Center, Bacha khan university Charsadda.

ډاکټر سي اې قادر لیکي چې دا په یو طرف خصوصي او په بل طرف عمومي سائنس دے. په خصوصي کښې د انسان په طبعي او په عمومي کښې د انسان په کلتوري، تهذیبي یا ثقافتي اړخونو مطالعه کېږي"(۱).

مسز مجیده صابره یې یو سماجي سائنس ګڼي"(۲). انګرېزي کښې ورته "Anthropology" وایي او رېښه یې د یوناني ژبې ټکي "Anthropos" سره لګي چې معنا یې د انسان ده. وروستو دا ټکے په لاطیني ژبه کښې Anthropologia شو چې معنا یې د "انسانیت مطالعه" شوه. په ۱۵۹۳ ع کښې په وړومبي ځل د دې ټکي استعمال وشو او په نولسمه پېړۍ کښې یې د یو باقاعده علم په توګه ځانګړے مقام تر لاسه کړو"(۳).

اکسفورډ لغت د بشرپوهنې تشریح داسې کوي:

**"The Study of the Human race, especially of its origin, Development, customs and beliefs"(۴).**

ژباړه: د نسلِ انساني مطالعه، چې په کښې په خاصه توګه د انسان ابتداء، ارتقاء، اقدار او عقاید مطالعه کولے شي.

میریم وېبسټر ډکشنري د دې تعریف و تشریح داسې کوي:

**"the science of human beings especially : the study of human beings and their ancestors through time and space and in relation to physical character, environmental and social relations, and culture"(۵).**

ژباړه: دا د انسانانو سائنس دے چې په خاصه توګه په کښې د انسان زاړۀ طبعي او ټولنیز خصوصیات او ټولنیز تړونونه و کلتور مطالعه کولے شي.

بریټنیکا انسایکلو پېډیا لیکي:

**"The Science of Humanity" Which study Human beings in aspects ranging from the biology and evolutionary history of homo sapiens to the features of society and culture that decisively distinguish human from other animal species. Because of diverse subject matter it encompasses..."(۶).**

ژباړه: دا د انسانیت سائنس دے چې په کښې د انسان د ابتداء (هوموسیپین) څخه تر موجوده طبعي جوړښت او تر ټولنیز و کلتوري ارتقاء پورې مطالعه کوله شي چې انسان څنګه د نورو ځناورو نه ارتقاء وموندہ او موجوده ترقي یافته شکل ته راغے.

**د بشر پوهنې قسمونه یا څانګې**:

په دې پېړۍ کښې د بشرپوهنې یو شمېر څانګې او قسمونه تر نن ورځې پورې ماهرینو ذکر کړي دي ( چې په راتلونکي کښې په دې کښې کمي بیشي ممکنه ده ) لکه ارکیالوجیکل بشرپوهنه، طبعي بشرپوهنه، لساني بشرپوهنه، کلتوري بشرپوهنه او نفسیاتي بشرپوهنه. خو په عامه توګه په کښې د انسان په طبعي او کلتوري اړخونو زیاته مطالعه کوله شي. یعني د بشرپوهنې دوه غټې څانګې دي. طبعي بشرپوهنه او کلتوري بشرپوهنه"(۷).

پۀ بشر پوهنه کښې د انسان په مادي او روحاني اړخونو زیاتې څېړنې او مطالعې کېږي لکه د انسان وجود پخوا څنګه ؤ او اوس پکښې کوم طبعي فرق راغلے دے؟ انساني وجود کښې د پیدائش نه تر مرګه پورې کوم رقم بدلونونه راځي؟ د جغرافیې په انساني وجود څۀ اثرات وي؟ د انسان بېلابېلې طبعي او نفسیاتي ناروغۍ؟ انسان کوم مادي او غېر مادي افکار تخلیق کړي دي؟ څنګه جینیات په انسانانو اثرات مرتب کوي؟ د داسې قسم سوالونو ځوابونه لټولے شي او په کلتوري بشرپوهنه کښې د انسان د تهذیبي ارتقاء مطالعه کوله شي"(۸).

## د بشرپوهنې د نورو علومو سره تعلق:

څنګه چې ووئیلے شول چې دا یو سماجي سائنس دے په دې وجه وړومبے تعلق یې د سماج، ټولنه او معاشرې سره شو یعني د ټولن پوهنې سره یې تر ټولو نزدې تعلق دے. دې نه علاوه یې د جغرافیې، نفسیاتو، ارکیالوجۍ، سیاسیاتو، تاریخ، ژبپوهنې او ټولو حیاتیاتي سائنسي علومو سره هم تعلق دے"(۹).

دلته د خوشحال په اثارو کښې د بشرپوهنې د دې دوو څانګو مطالعه کوو.

۱. **طبعي بشرپوهنه: Physical anthropology**

۲. **ثقافتي، کلتوري یا تهذیبي بشرپوهنه**: **Cultural anthropology**

**خوشحال او طبعي بشرهنه**:

خوشحال عالم، طبیب او مفکر دے خو د علومو دایره د شریعت نه بهر نۀ قبلوي. ځکه یې په اثارو کښې لکه د ډارون د انسان د ارتقاء په اړه خصوصي نظریه نۀ وینو بلکې څنګه چې الله پاک په قران پاک کښې حضرت ادم ع وړومبے

انسان یاد کړے نو خوشحال هم د دې نه ورپسې اخوا نهٔ دے وتلے، البته د یوناني او نورو فلسفرانو و مفکرینو غونډې د انسان په جوړښت او ماهیت یې خپل نظر زمونږ مخې ته ایښے دے. چې انسان د تضادو مجموعه ده چې هېڅ ماهیت یې نهٔ معلومېږي خو بیا هم داسې حیوان یې ګڼي چې په نړۍ کښې د دهٔ په څېر بل نشته:

هېڅ ماهیت یې موندهٔ نهٔ شي
چې څهٔ څیز دے دا بشر
هم ترکیب د نېک او بدو
هم معجون د خیر او شر
هم فرشته دے هم حیوان
هم مومن دے هم کافر
کله اور کله اوبهٔ شي
کله توره کله سپر
لکه دے دے په جهان کښې
بل به نوي دیده ور
هم ملک دے هم حیوان دے
هم مومن دے هم کافر
څهٔ خو لږ تر خدای راتیټ دے
کهٔ یې نهٔ وي برابر"(۱۰)

یا دا چې د انسان اساس شناخ ګڼي:

لکه ډک شي هسې تش وي
د شناخ دے ستا اساس
هم ګوهر یې هم شبته یې
هم کتان یې هم کرباس"(۱۱)

یعني د خوشحال په نزد؛ په نړۍ کښې انسان هغه واحد حیوان دے چې د خیر و شر څخه جوړ شوے دے او د تضادو مجموعه ده.

خوشحال یو طبیب دے او طبي علم لري ځکه یې "طب نامه" ولیکلے شوه. دې نه علاوه یې په اثارو کښې د انسان د طبعي خدوخال په مناسبت سره یو شمېر ځایونو کښې د انسان په اړه مواد ترلاسه کېږي چې مونږ په دې نتیجه په اسانۍ سره رسېږو چې خوشحال بشرپوه دے او بشرپوهنه په دوه مهمو څانګو کښې ویشي. طبعي او ثقافتي. لکه د دستارنامې وړومبي هنر " د ځان پېژندګلو" کښې لیکي:

"شناخت د ځان (د انسان شناخت) په دوه رنګه دے، یو په ظاهر بل په باطن"(۱۲).

بیا ورپسې لیکي چې یوه قطره مني د ښځې رحم ته پرېوځي، څلوېښت ورځې مضغه شي، غوښې او رګ یې و استخوان پکښې جوړ کا، سر، پښې، لاس، تمام وجود سترګې، پوزه، خولۀ، غوږ، مخ، وروځې، بانۀ درست یې سره مرتب کا، څلور میاشتې پس په کښې روح واچولے شي، خوراک یې د حېض مردارې وینې وي.چې تنومند شي د شپږو میاشتو پورې زېږدل ممکن وي خو په نهمه میاشت زېږي. په نهمه میاشت چې پیدا شي نو د مهتاب سره برابري کا"(۱۳).

د خوشحال په نزد انسان په دوه جنسه دے، زنان او مردان. ښځه له سړي کمه ده او دا خبره د قران او هم له سائنس ثابته ده چې ښځینه وجود د سړي نه کمزورے وي، خوشحال؛ ښځه د سړو مزرعه **(Nursery)** ګڼي او وایي چې د جهان وداني په دا زراعت ده"(۱۴).

د خوشحال په اثارو کښې د طب ډېرې جدي نسخې او علاجونه دي. د انسان د پیدا کېدو نه تر مرګه پورې د عمر په هره مرحله د انسان راهنمایي کوي. د دستارنامې وړومبے او دولسم هنرونه په دې باب دي. چې د خوشحال د طبعي بشرپوهنې په اړه نظر راشریکوي. د مثال په توګه خوشحال وایي چې ماشوم چې پیدا شي او د څلورو کالو، څلورو میاشتو او څلورو ورځو شي نو په سبق دې کښېنولے شي. استاد دې ورسره نرمي کوي او د ماشوم په زړۀ دې چلیږي، بیا مور پلار ته وینا کوي چې نیازبین دې نۀ شي عادت . . . چې د شپاړسو کالو شي نو که جوسه ناک ؤ نو وادۀ ورله کول پکار دي ولې چې حکیمان وایي چې پس له شلو کالو د مني قوت په ځای شي. د وادۀ نه پس ډېر دخول او شهوت انګیز دارو ورله نۀ دي پکار، ولې چې د دې نقصان بیا په اخر عمر کښې وي"(۱۵).

پهٔ طبعي او هم طبي بشرپوهنه کښې د جنیاتو مطالعه هم کېږي. خوشحال هم د جنیاتو د اثراتو په اړه وایي:

" . . . کهٔ یوه توره وینځه حبشي یا هندي یا مغل یا پښتون تر ځان لاندې کا، امتحان تجربه د دې کار شوې ده چې اولاد یې که و پلار وته شي، سور سپین پیدا شي که مور وته شي تور سیاه قام پیدا شي"(۱۶).

یا دا شعر چې خوشحال د جیناتو اثرات په خوئ خصلت مرتب ګڼي:

پهٔ اولاد کښې یې اثر د اصل وشي
د بد اصلو دې داماد نهٔ شي سړے"(۱۷)

**جغرافیه او بشرپوهنه:**

جغرافیه د یو تهذیب په مادي او غیر مادي توکو جوړولو کښې مهم لاس لري. د مثال په توګه د سائیبېریا جغرافیه به واخلو چې هلته انسانان مجبوره دي چې د یخنۍ له کبله غټې درنې او شړۍ ورې جامې واچوي، بلخوا د هند ګرمه جغرافیه کښې خلق مجبوره شي چې د ګرمۍ له کبله نیم وجود بربنډ وساتي. دا رقم په مجموعي توګه د یخې علاقې انسانان سپین او د ګرمې علاقې انسانان تور وي. هم دا وجه ده چې ډاکټر سي اے قادر هم لیکي چې جغرافیه د یو ثقافت (کلتور، تهذیب) د پاره د فصیل کار ورکوي او د هغې ځای موسمي اثرات د دې تهذیب په جوړولو کښې مهم لاس لري"(۱۸).

د خوشحال په مشاهده کښې هم دا خبره راغلې ده چې جغرافیه او جینز د انسان په ظاهري رنګ کښې فرق راولي خو بیا دا هم زیاتوي چې دا د خدای کارونه دي:

هند کښې تور سکاڼ دي له موره پلاره
پښتانهٔ واړه سره سپین اې یاره!
تاثیر کهٔ تخم اب و هوا لري
تهٔ واړه وګڼه له کردګاره"(۱۹)

څنګه چې ووئیلے شول چې خوشحال د شریعت نه بهر نهٔ ووځي. دلته مونږ وینو چې د خوشحال سائنسي اپروچ شته او شوے دے خو د څهٔ وجوهاتو له کبله اړ دے چې هر څهٔ د شریعت پورې محدود کړي.

**خوشحال او ثقافتي بشرپوهنه:**

څنګه چې مخکښې ذکر وشو چې طبعي بشرپوهنه کښې د انساني وجود ظاهري خدوخال او ثقافتي بشرپوهنه کښې د انسان له خوا تخليق شوي مادي يا غېر مادي تخليقات، ايجادات، ترجيحات،رجحانات، افکار، نظريات وغېره راځي لکه علم او د علم ټول قسمونه، د انسان لخوا جوړ کړل شوي ټول مادي وجودونه وغېره چې بلعموم ورته " تهذيب"، ثقافت يا کلتور وئيلے شي"(۲۰).

د خوشحال په اثارو کښې د ثقافتي بشرپوهنې بشپړ انځور پروت دے چې دلته يې څو نمونې راخيستل غواړو لکه خوشحال تر ټولو اول د انسان ازادي غواړي بيا بشپړ سړے (مرد، ننګيال) غواړي چې په شريعت او پښتني رواياتو ټينګ ولاړ وي. د علم او هنر څښتن او د عملي کار ښکارندوي يې غواړي چې په ژوند مئين وي او د دستارنامې مذکوره شلو هنرونو او خصلتونو عملي نمونه وي.

د انسان د ازادۍ په اړه د خوشحال نظر دے چې کوم سړے ازاد وي هغه د چا طمع لالچ نۀ کوي او څوک چې طمع لالچ کوي نو هغه خپلواکي نۀ شي ترلاسه کولے او چې څوک خپلواکه نۀ وي هغه به تل شرمنده وي:

ازاده به له چا تمه، اميد نۀ کا
چې به تمه له چا کا کله عتيق شو"(۲۱)
سړے ازاد وي آز يې بنده کا
بنده لا پرېږده لا يې ګنده کا
هومره خوارېږي څو آز د زړۀ لري
پۀ څو څو رنګه يې بيا شرمنده کا"(۲۲)

د انسان د ازادۍ نه پس غواړي چې انسان په شرعي او پښتني رواياتو کاربند ووسي. بې پښتو او بې شريعته کار او نۀ کړي. کلمه، لمونځ، روژه، زکوات، حج، ذکر اذکار جاري وساتي، دعلماء کرامو قدر وکړي. په قول و فعل کښې تضاد اونۀ لري، همېشه رښتيا ووايي، د جعلي ملايانو او پيرانو د قيد نه ځان خلاص کړي، د نوروز سندرې ووايي، موسيقي و سرود واوري، د مشرانو قدر عزت وساتي، په مېلمستيا او جنګ کښې پاتې را نۀ شي. شمله تل لوړه وساتي، د کور، کلي د خاندان، د هېواد نام و ناموس لوړ وساتي، د وطن په نام و ننګ سر قربان کړے شي وغېره"(۲۳).

دې نه علاوه د دستارنامې شل هنرونه او خصلتونه په ځان کښې راولي لکه اول هنر د ځان معرفت دے، یعني انسان چې خپل ځان وپیژني، ګویا خدای پاک یې وپېژندو. دویم هنر د علم چې کسب کمال بالۀ شي او انسان د پاره علم حاصلول فرض دي، ولې چې د انسان او جهان ترقي په علم کښې ده. درېیم هنر د خط چې داخل د کسب کمال دے یعني انسان علم د یو نسل نه بل ته د خط په ذریعه منتقل کوي. څلورم هنر د شعر د نظم دے چې انسان دانايي او حکمت حاصلوي. پنځم هنر د تیر اندازۍ دے یعني انسان له ښۀ جنګجو جوړېدل هم ضروري دي ولې چې انسان ته د جنګ ضرورت پېښېدے شي لکه د ځان یا د وطن د دفاع جنګ. شپږم هنر د اب بازۍ دے، دا هم د جنګ سره تعلق لري. اووم هنر د اسپ تازۍ دے، یعني چې انسان د اسپو زغلولو کښې ماهر وي ( د خوشحال په وخت کښې د اسونو بغېر تګ راتګ یا جنګونه کول ممکن نۀ وو، نن دور کښې دې د پاره د ګاډو، ټېنکونو او جازونو چلول مرادېدے شي). اتم هنر د ښکار چې حلال کسب دے، یعني انسان دې د حلال رزق د پاره منډې او هڅې کوي. نهم هنر د شجاعت دے، یعني انسان له په هر کار کښې د شجاعت مظاهره کول پکار دي ولې چې کامیابي په دې کښې ده. جنت د تورو تر سایه لاندې دے. لسم هنر د سخاوت، ورکول پخول، یعني انسان دې سخي اوسي، پخلے دې ډېر کوي ولې چې په پخلي کښې اصراف نشته. یوولسم هنر د معاشرت، یعني ښځه دې خاوند له او خاوند دې ښځې له یوویشت یوویشت حقوق ور په ځای کړي ( کوم چې خوشحال د شریعت او پښتونولۍ په رڼا کښې ټاکلي دي). دولسم هنر د اولاد د تربیت، انسان دې د مور د خېټې نه تر ځوانۍ پورې د خپل اولاد طبي، نفسیاتي او تعلیمي تربیت کوي. دیارلسم هنر تادیب د خدم، د توابع لواحق، انسان دې په خپلو ماتختو ( نوکرانو او غلامانو ) خاص خیال ساتي، ظلم زیاتے دې ورسره نۀ کوي او خانداني غلامان یې درلودل نو د غلامې ښځې سره دې وادۀ کولو کښې شرم نۀ محسوسوي.څوارلسم هنر د اسباب د معیشت، انسان له درې څیزه لازمي دي، خوراک، پوښاک او اوتاک. ساده او حلال خوراک، ساده پوښاک خو اوتاک دې لوړ ساتي. پنځلسم هنر د زراعت، یعني انسان دې د کر کروندې علم ترلاسه کړي. شپاړسم هنر د سوداګرۍ د تجارت. انسان دې حلال کاروبار کوي ولې چې ملک په سیاست، علم په بحث او

مال په تجارت زیاتېږي. اولسم هنر د تحقیق د نسب، انسان له پکار دي چې د خپل اصل نسل تحقیق وکړي. اتلسم هنر د علم موسیقي، چې انسان ته خوشحال ورکوي. نولسم هنر د نرد د شطرنج دے، چې انسان په سوچ او منصوبه بندۍ کولو عادت کوي. شل هنر د نقاشۍ د تصویر دے، یعني د انسان زړۀ ته د ښۀ تصویر په جوړولو فرحت حاصلېږي"(۲۴).

دا رقم د شلو هنرونو نه پس انسان له شل خصلتونه هم ټاکي چې باید هر انسان یې په ځان کښې پیدا کړي او د یوکامیاب انسان په څېر ژوند تېر کړي لکه اول خصلت د مشورت، انسان کۀ هر څومره هوښیار وي خو د نورو سره د مشورې کولو خصلت دې په ځان کښې پیدا کړي. دویم خصلت عزم، انسان چې کوم عزم وکړي کۀ مري کۀ پاتې کېږي هغه دې سرته رسوي. درېیم خصلت د خاموشۍ دے، هر چا د پاره خاموشي افضل ده هغه کۀ هوښیار وي کۀ ساده ولې چې د خاموشۍ د پاسه بل بهتر خصلت نشته، انسان کۀ څۀ خبره کوي د ډېر سوچ و فکر نه پس دې یې کوي. څلورم خصلت د راستۍ دے، انسان چې څۀ وایي په هغه دې عمل هم کوي، کۀ داسې یې اونۀ کړل نو د خلقو به د دۀ په خبرو اعتماد ختم شي. پنځم خصلت د شرم د حیا دے، انسان د پاره شرم حیا ضروري دي ولې چې حیا د ایمان پوستکے دے، انسان باید د ښځو عزت وساتي خو عبدالزوجه دې نۀ شي. شپږم خصلت د خلقت دے، انسان دې هر چا سره ښۀ اخلاق ساتي، هغه کۀ دوست وي کۀ دښمن. اووم خصلت د مروت دے، انسان دې د چا احسان او ښېګړه نۀ هېروي. اتم خصلت د عفو د کرم دے، انسان دې د بل انسان ګناه معاف کوي. نهم خصلت صفت د تمیز د تاني، انسان دې په خبره ډېر سوچ فکر کوي بیا دې خبره کوي، په جلدۍ او بې پرواهۍ کښې دې هېڅ له خلې نۀ وباسي. لسم خصلت د عدل د انصاف دے. د ملک او د اولس ابادي په عدل و انصاف ده. یوولسم خصلت د توکل دے، کۀ سړے سل هنره لري چې توکل نۀ لري هېڅ فایده یې نۀ وي. دولسم خصلت د تربیت او شرم د خپل نوازش، یعني انسان دې بد اصله، بدطنیته، بد فطرته، بد ذاته، بد ګهره وغېره انسانانو له تربیت نۀ ورکوي ولې چې سبا یې دا خلق بیا د شرم سبب ګرځي. دیارلسم خصلت د خوف د رجاء دے، انسان دې خوف و رجاء قایمه ساتي چې څوک یې حکم نۀ شي ماتولے، د خوف قایم ساتلو د پاره انسان له پکار ده چې د خلقو سره

دي ډېر نهٔ کښېني، ډېرې خبرې دې نهٔ کوي او د خپل مال و ملک په جمع خرځ دې ځان خبر ساتي. څوارلسم خصلت د ملک د انتظام دے، انسان دې د کور د منظم ساتلو د پاره تکړه ښځه او د ملک د انتظام د پاره وزیران، خزانچیان وغېره ټاکي. پنځلسم خصلت د همت دے، یعني انسان باندې ډېرې حادثې واقعې راتلے شي خو انسان به زړهٔ مظبوط لري او وار نهٔ خطا کوي بلکې د همت نه به کار اخلي. شپاړسم خصلت د حلم (برداشت)، انسان دې په ځان کښې برداشت پیدا کړي ولې چې په برداشت سره وران کارونه سمېږي. اولسم خصلت د غیرت دے، انسان دې په مذهب، په ملک او په کور غیرت کوي. اتلسم خصلت د حزم د اختیاط، انسان دې اختیاط کوي چې څوک ورته خوش امد او تملق کوي نو ګوري دې چې په دې کښې یې څهٔ مقصد دے؟. نولسم خصلت د ورع د طاعت د عبادت دے، انسان دې همېشه په زړهٔ کښې د خدای وېره لري، د خدای اطاعت او عبادت دې کوي. شلم خصلت د استعفار، د انسان نه خامخا ګناه کېږي څکه ورله تل استعفار وئیل هم پکار دي"(**۲۵**).

خوشحال خان خټک بشرپوه دے او په اثارو کښې یې د بشر د طبعي، طبي، روحاني، اخلاقي، سیاسي، وطني، ملي، سماجي، معاشي، جنسي، جینیاتي، روماني وغیره روزنه، پالنه او لاربښودنه په داسې علمي انداز کړې ده چې تر نن ورځې د بشر د پاره کافي او مفیده ده او چې څوک ورباندې پوره وخېژي په پښتنه ټولنه کښې به کامیاب ژوند تېر کړے شي.

# حوالې

(۱) سی اے قادر، ڈاکٹر، ثقافتی انسانیات، تدوین، ڈاکٹر انور سدید، مغربی پاکستان اردو اکیڈمی، لاہور، طبع اول، جنوری ۱۹۸۹، ص ۸

(۲) صابر، مجیدہ، مسز، علم انسانیات، اردو سائنس بورڈ، وزارت اطلاعات، نشریات و قومی ورثہ، حکومت پاکستان، اپرمال لاہور، طبع دوم، ۲۰۱۷، ص ۲۸

(۳) https://www.merriam-webster.com/dictionary/anthropology Visited: July ۰۲, ۲۰۲۳.

(٤) Leonie Hey & Suzanne Holloway, Oxford advanced learner's Dictionary , Oxford press, Ed: ۹th , ۲۰۱۵, P: ٥٤

(٥) https://www.merriam-webster.com/dictionary/anthropology Visited: July ۰۲, ۲۰۲۳.

(٦) https://www.britannica.com/science/anthropology visited: july ۰۳, ۲۰۲۳.

(٧) IBID

(۸) صابر، مجیدہ، مسز، علم انسانیات، ص ۲۱ تا ۲۸

(۹) ایضاً، مخ ۲۹، ۲۸

(۱۰) هاشمي، محي الدين، ډاکټر، د خوشحال خان خټک کليات، مېهن خپروندويه ټولنه، پېښور _ جلال اباد، ۲۰۱۸، مخونه: ۵۴، ۵۳

(۱۱) همدا، مخ: ۶۸

(۱۲) همدا، مخ: ۱۲۹۹

(۱۳) همدا

(۱۴) همدا، مخونه: ۴۶، ۱۳۴۵

(۱۵) همدا، مخونه: ۱۳۵۷ تا ۱۳۶۰

(۱۶) همدا، مخ: ۱۳۲۸

(۱۷) همدا، مخ: ۷۷۰

(۱۸) سی اے قادر، ڈاکٹر، ثقافتی انسانیات، ص:۱۳
(۱۹) هاشمي، د خوشحال خان ختک کلیات، مخ: ۲۹۹
(۲۰) سی اے قادر، ڈاکٹر، ثقافتی انسانیات، ص:۱تا۱۲۸
(۲۱) هاشمي، د خوشحال خان ختک کلیات،مخ: ۱۴۸
(۲۲) همدا ، مخ: ۴۲۳
(۲۳) همدا ، مخ: ۱ تا ۱۲۸۸
(۲۴) همدا ، مخونه: ۱۲۹۸ تا ۱۳۸۲
(۲۵) همدا ، مخونه: ۱۳۸۲ تا ۱۴۱۷